هفته واره رساله

TRANSLATION DEPARTMENT (DAWAT-E-ISLAMI)



# د یولسم شریف
# برکتونه

د یولسم شریف مطلب؟

500 کاله مخکښې د تېر شوي د قرآنِ کریم د مفسر ارشاد

د یولسمې پیر ورته ولې وئیلے کیږي؟

د افتونو او بلاګانو نه د حفاظت نُسخه



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د یولسمې شریف برکتونه

دُعائے عطّار: یا ربِّ کریمه! څوک چې دا رساله "د یولسمې شریف برکتونه" ولولي یا واوري هغهٔ ته د یولسمې شریف کولو توفیق او د هغې برکتونه ورنصیب کړې، د قیامت پهٔ ورځ یې د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه پهٔ غلامانو کښې راپاڅوې او د مور او پلار سره یې جَنَّتُ الفردوس ته بے حسابه داخِل کړې- اٰمِیْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمان مبارک دے: پهٔ تاسو باندې د جوماتو حاضري او پهٔ نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډېر ډېر دُرُودِ پاک لوستل لازمي دي- (الفتح الرباني و الفیض الرحماني، ص: 23)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه پهٔ عُرس کښې د مولیٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تشریف راوړل

حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه لیکلي دي: حضرت مرزا مظهر جانِ جاناں رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه (څوک چې ډېر کامل ولي دے، هغوئي) فرمائي: یوه ورځ

زۀ اودۀ ووم، ما خوب وليدو چې يوه صحرا ده، پۀ هغې کښې يوه غټه شان چبوتره ده او ډېر زيات اوليائے کرام رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡهِم پۀ هٰغه چبوتره کښې د مراقبې پۀ حالت کښې (يعنې د سترګو پټولو سره، د الله پاک پۀ ياد کښې ډوب) ناست دي، پۀ دې حلقه کښې حضرت خواجه نقشبند رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه او حضرت خواجه جنيد بغدادي رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه هم تشريف فرما دي- ما د چا نه پوښتنه اوکړه چې دا ټول اوليائے کرام رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡهِم دلته ولې راجمع دي؟ ووئيلے شول: د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي الْمُرتضیٰ، شېر خدا رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ تشريف راوړي، ټول د هغوئي د هرکلي د پاره حاضر دي- لږ وخت پس حضرت علي الْمُرتضیٰ، شېر خدا رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ تشريف راوړلو، د هغوئي سره يو بزرګ هم وو، هغوئي د هغۀ لاس ډېر پۀ محبت سره نيولے وو، پۀ پوښتنه کولو ووئيلے شول: دا خَيْرُ التَّابِعِيْن (يعنې پۀ تابعينو کښې د اوچتې مرتبے والا، عظيم عاشق رسول) حضرت اُويس قرني رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه دے-

حضرت مرزا مظهر جانِ جاناں رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه فرمائي: ما پوښتنه اوکړه چې دا ټول چرته روان دي؟ يو ويونکي ووئيل: نن د حضور غوث الثقلين (شيخ عبدالقادر جيلاني رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه عرس مبارک يعنې لوئي يولسمه شريف دے او دا ټول بزرګان پۀ هٰغه دستوره کښې د شامليدو د پاره تشريف وړي- (کلمات طيبات (فارسی)، ص78،77) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي ټولو باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اے د غوثِ اعظم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ عاشقانو! سُبْحٰنَ اللہ! دوو جليلُ القدر بزرګانو حضرت شاه وليُّ الله مُحَدِّثِ دِهلوي او حضرت مرزا مظهر جانِ جانان رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہِما ګواهي ورکړه چې د يولسمې شريف پهٔ محفل کښې د شهنشاه ولايت حضرت علي المُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره عظيم تابعي بزرګ حضرت اُويس قَرَني رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ او نورو لوئي لوئي اوليائے کرامو رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہِم هم تشريف راوړلو- مونږ له هم پکار دي چې هر کال بلکې هره مياشت د يولسمې شريف بندوبست کوو-

ہم کو "گیارہ" کا ہے عدد پیارا، ان کی تاریخِ عُرس ہے گیارہ

یوں عدد ہم کو پیارا گیارہ ہے، واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د يولسمې شريف مطلب؟

اے د غوثِ اعظم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ عاشقانو! د يولسمې شريف مطلب دے: "سرکار بغداد، حضورِ غوثِ پاک شيخ سيد عبد القادر جيلاني رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ ته اِيصالِ ثواب کول" او د اِيصالِ ثواب ثبوت پهٔ قرآنِ کريم او پهٔ حديثونو مبارکو کښې موجود دے لکه څنګه چې پهٔ 28 سيپاره، د سورةُ الحشر پهٔ آيت نمبر 10 کښې اِرشاد دے:

وَ الَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَ لِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ

(پ28، سورۂ الحشر: 10)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د هغوئي نه پس راتلونکي عرض کوي: اے زمونږه ربه! مونږه او زمونږه ځغه ورونړه وبخښې کومو چې زمونږ نه مخکښې اِيمان راوړلو-

د دې آيت مبارک پۀ تفسير کښې دي: د مهاجرو او د اَنصارو نه پس راتلونکي عرض کوي: اے زمونږه ربه! مونږه او زمونږه ځغه ورونړه وبخښې کومو چې زمونږ نه مخکښې اِيمان راوړو- ياد ساتئ چې د مهاجرو او انصارو نه پس پۀ راتلونکو کښې د قيامته پورې پېدا کېدونکي ټول مسلمانان شامل دي (څوک چې د ځان د پاره او د هغوئي د پاره د بخښنې دُعا کوي او پۀ راتلونکي وخت کښې به يې هم کوي) او د هغوئي نه مخکښې پۀ اِيمان راوړونکو کښې ټول صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمۡ شامل دي (د کومو د پاره چې اوس هم دُعا کېږي او بيا به هم کېږي)- (تفسير خازن، پ28، الحشر، تحت الآية:10، 249/4)

پۀ تفسيرِ سَمَرقَندي کښې دي: مؤمِنانو له پکار دي چې هغوئي د خپل پلار نيکونو او د دِيني علومو د اُستاذانو د پاره د بخښنې دُعا کوي-

(تفسير بحر العلوم للسمرقندی، پ28، الحشر، تحت الآية:10، 345/3)

حضرت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د دې آیت مبارک لاندې فرمائي: د دې نه دوه مسئلې معلومې شوې: یو دا چې (اِنسان دې) صرف د خپل ځان د پاره دُعا نهٔ کوي، د سَلَف (یعنې د مخکښینو بزرګانو رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہِم) د پاره دې هم کوي- دوېم دا چې د دِین د بزرګانو رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہِمپهٔ خاص توګه د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتِ اَطهار عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان عُرس، ختم، نیاز او فاتحه اعلیٰ څیزونه دي ولې چې پهٔ دې کښې د هغه بزرګانو د پاره دُعا ده- (تفسیر نور العرفان، پ28، الحشر، تحت الآیة:10، ص873)

## د " دستګیر " د 6 حروفو پهٔ نسبت سره د اِیصالِ ثواب پهٔ باره کښې 6 حدیثونه مبارک

اے د اولیائے کرامو رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہِم عاشقانو! د اِیصالِ ثواب معنیٰ ده: " ثواب رَسَوَل "، دې ته " ثواب بخښل " هم وئیلے شي خو د بزرګانو د پاره " ثواب بخښل " وئیل مُناسب نهٔ دي، " ثواب نذرانه کول " وئیل ادب ته ډېر نزدې دي- وفات شوؤ ته چې د کومو نېکو کارونو ثواب لېږلے کیږي هغه هغوئي ته رسیږي لکه څنګه چې پهٔ صِحاح سِتّه (یعنې صحیح ترین د حدیثونو مبارکو پهٔ شپږو مشهورو کتابونو) کښې بُخاري او مُسلم شریف کوم چې د قرآنِ کریم نه پس د ډېر اِعتماد وړ کتابونه دي، پهٔ دې دواړو کښې دا حدیثِ پاک موجود دے چې

﴿1﴾ د ټولو مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت بي بي عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا فرمائي: يو کَس په دربار رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې عرض اوکړو: زما مور ناڅاپه وفات شوې ده، زما خيال دے چې که هغې څۀ خبرې کولے نو د صدقې کولو به يې وئيل، که چرې زۀ د هغې د طرف نه خيرات اوکړم نو آيا هغې ته به يې ثواب مېلاوېږي؟ اِرشاد يې وفرمائيلو: ''آؤ-''

(بخاری، 468/1، حدیث:1388۔ مسلم، ص390، حدیث:2326)

﴿2﴾ صحابيِ رسول حضرت سَعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د حضورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زما مور وفات شوې ده کومه صدقه افضل ده؟ اِرشاد يې وفرمائيلو: اوبۀ- نو حضرت سَعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کوهے وکنستو او وه يې فرمائيل: هٰذِهٖ لِاُمِّ سَعْدٍ يعنې دا (کوهے) د سعد د مور د پاره (صدقه) ده- (ابو داؤد، 180/2، حدیث: 1681)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بُخاري او مسلم او د ابو داؤد شريف نه ثابتېدونکې خبرې

حضرت علامه مولانا مفتي جلالُ الدِّين احمد امجدي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ اِرشاد فرمائي چې د دې دواړو حديثونو مبارکو نه دا خبرې معلومې شوې چې ﴿1﴾ د مړي د اِيصالِ ثواب د پاره اوبۀ بهترينه صدقه ده چې کوهے وغيره دې

وکنستلے شي او د هغې ثواب دې مړي ته وبخښلے شي- ﴿2﴾ مړي ته د څۀ کار خير (يعنې نيک کار) ثواب بخښل بهتر دي- ﴿3﴾ د ثواب بخښلو الفاظ پۀ ژبه باندې ادا کول د صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سُنَّت دي- ﴿4﴾خوراک يا خواږۀ وغيره مخې ته ايښودل او اِيصالِ ثواب کول جائز دي، څکه چې حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د اِشاره قريب لفظ پۀ اِستعمالولو سره وه فرمائيل: " هٰذِهٖ لِاُمِّ سَعۡدٍ " دا کوهے د سعد د مور د پاره دے- يعنې الله پاک دې د دې کوهي د اوبو ثواب زما مور ته ورسوي- د دې نه معلومه شوه چې کوهے د هغوئي مخې ته وو- (څوک چې د خوراک مخې ته پۀ ايښودو د اِيصالِ ثواب کولو نه منع کول کوي هغوئي ته د دې روايت نه سبق حاصلول پکار دي-) ﴿5﴾ غريب او مسکين له د خوراک وغيره ورکولو نه مخکښې هم اِيصالِ ثواب کول جائز دي- لکه څنګه چې صحابيِ رسول رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اوکړل چې د کوهي د تيارېدو سره هغوئي اِيصالِ ثواب اوکړو حالانکې د خلقو د اوبو اِستعمالېدو نه پس به ثواب ميلاؤېږي- دغه شان اګر که غريب او مسکين له پۀ خوراک ورکولو به ثواب کيږي خو د دې ثواب د مخکښې نۀ بخښل هم جائز دي- ﴿6﴾ پۀ څۀ څيز باندې د مړي د نوم راتلو سره هُغه څيز نۀ حرامېږي مثلاً د غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِم چېلے او د غازي ميان چرګه وغيره څکه چې يو جليلُ القدر صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هُغه کوهے د خپلې وفات شوې

مور د نوم سره منسوب کړے وو کوم چې د نن پورې د "بِیرِ اُمِّ سَعد" په نوم باندې مشهور دے۔ (انوار الحدیث، ص230)

## وفات شوو خلقو ته ثواب رسېږي

﴿3﴾ د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خادِم حضرت اَنس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي چې رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ما عرض اوکړو: مونږ د خپلو وفات شوو د پاره دعاګانې او د هغوئي د طرف نه صدقې او خېراتونه او حجونه کوو، آیا دا خیزونه هغوئي ته ورسېږي؟ نو رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بے شکه دا خیزونه هغوئي ته ورسېږي او هغوئي په دې باندې خوشحالېږي لکه څنګه چې په تاسو کښې څوک یو بل له په تحفه [ورکولو] خوشحالېږي۔

(عمدۃ القاری، 305/6، تحت الحدیث:1388)

﴿4﴾ د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کله چې په تاسو کښې څوک نفلي صدقه کوي نو د خپل مور پلار د طرف نه دې اوکړي داسې به د دې (صدقې) ثواب د هغوئي د پاره هم وي او د دې (صدقې کوونکي) په ثواب کښې به هم هیڅ کمے نۀ راځي۔ (معجم اوسط، 394/5، حدیث:7726)

## خپلو وفات شوو ته تحفې لېږئ

﴿5﴾ د حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے: ما د حضور نبيِ رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اِرشاد اورېدلے دے: کله چې د کور په کسانو کښې یو کَس وفات شي او د هغې نه پس د هغۀ کور والا (د ثواب رسولو د پاره)

د خپل وفات شوي د طرف نه صدقه کوي نو حضرت جبریل امین عَلَیْہِ السَّلَام هغه د نُور په تالي کښې تحفه کیږدي، بیا د قبر په غاړه ودریږي او فرمائي: اے د ژور قبر والا! دا تحفه ده کومه چې ستا کور والؤ ستا اړخ ته رالیږلې ده دا قبوله کړه- بیا هُغه تحفه هغهٔ له ورکړے شي نو هغه ډیر خوشحالیږي او د هغهٔ هُغه ګاؤندیان (مړي) غمژن کیږي کومو ته چې هیڅ تحفه نهٔ وي لیږلے شوې- (معجم اوسط، 5/37، حدیث:6504)

چا څهٔ ښه وئیلي دي:

جانے والوں سے رابطہ رکھنا    دوستو! رسمِ فاتحہ رکھنا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب!    صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## فرښتے اِیصالِ ثواب کوي

﴿6﴾ د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اللّٰه پاک پهٔ خپل هر مؤمِن بنده باندې دوه فرښتے مقرروي کومې چې د هغهٔ عمل لیکي- کله چې هُغه مؤمِن بنده د دُنیا نه لاړ شي نو دوئي عرض کوي چې اے رَبه! (زمونږه کار ختم شو، هُغه کَس د دارِ اَعمال (یعني د دُنیا) نه ووتلو) اِجازت راکړئ چې مونږ اسمان ته راشو (او ستا عبادت اوکړو)- اللّٰه پاک ورته اِرشاد وفرمائي: زما اسمان د عبادت کوونکو نه ډک دے- عرض کوي: اِلٰهی! مونږ له پهٔ زمکه کښې ځائے راکړئ- اِرشاد کیږي: زما زمکې د عبادت کوونکو نه ډکې دي- عرض کوي: " اِلٰهی!

بیا مونږ چرته لاړ شو؟" اِرشاد ورته کیږي: زما د بنده د قبر سر ته ودرېږئ او تسبیح او تحمید او تکبیر او تهلیل کوئ او دا د قیامته پورې زما د بنده د پاره لیکئ- (شعب الایمان، 184/7 حدیث:9931۔ ملفوظات اعلیٰ حضرت، ص363)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم به هم اِیصالِ ثواب کولو

د جنتي ځوانانو سرداران حَسَنَینِ کریمَین حضرت امام حسن او حُسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهما به د خپل والدِ محترم حضرت علي المُرتضيٰ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د شهادت نه پس د هغوئي د طرف نه (یعني هغوئي ته د ثواب بخښلو د پاره) غلامان ازادول- (مصنف ابن ابي شیبه، 485/7، حدیث:12214)

د نن نه تقریباً د 500 نه زیات کاله مخکښې تېر شوے عظیم بزرګ، حضرت علامه اِمام جلالُ الدِّین سُیُوطِي شافِعِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه لیکلي دي: صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم به د مړي د طرف نه (یعني د هغوئي د اِیصالِ ثواب د پاره) 7 ورځې ډوډۍ ورکوله- (الحاوی للفتاویٰ، 178/2)

## صحابي نبي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پخپله د اِیصالِ ثواب کولو حُکم اوکړو (واقعه)

حضرت صالح بن دِرهم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: مونږ د حج د پاره روان وو چې یو صاحب (یعني حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ) راسره مېلاؤ شو او پوښتنه یې

اوکړه: آیا تاسو ته نزدې څۀ کلے شته کوم ته چې " اُبُلَّةُ " وئیلے کیږي؟ مونږ ووئیل: آؤ جي- (پۀ دې اوریدو سره) هغوئي وفرمائیل: پۀ تاسو کښې څوک د دې ضمانت ورکوي چې (پۀ هُغه کلي کښې پۀ موجود) جومات عَشَّار کښې زما د پاره دوه یا څلور رکعته نـمونځ اوکړي او ووائي چې "هٰذِهٖ لِاَبِيْ هُرَيْرَةَ" یعنې دا (نـمونځ) د ابو هریره د پاره دے- (ابو داؤد، 4/153، حدیث:4308)

د اللہ رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِيْن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

د دې حدیثِ پاک پۀ شرح کښې شیخ عبدُ الحق محدِّثِ دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: " د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چې پۀ مبارکو ځایونو کښې عبادت کول، نـمونځ ادا کول د ډیر ثواب کار دے او د بدني عبادتونو ثواب نورو ته بخښل هم جائز دي او د زیاتره علمائے کرامو رائے هم دغه ده، پاتې شوه معامله د عبادات مالیه (یعنې د صدقې او د خیرات کولو) نو هلته ثواب بخښل پۀ اِتفاق سره جائز دي-" (اشعة اللمعات(اردو)، 6/425)

حضرت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حدیثِ پاک پۀ شرح کښې لیکلي دي: د څۀ نیکئ کولو ثواب داسې بخښل چې خُدایه د دې ثواب فلانکـي ته ورسوې بالکل جائز (بلکې) د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم سُنَّت دي ځکه مروجه فاتحه (پۀ معاشره کښې چې کومه د اِیصالِ ثواب کولو

طریقه رائج ده) ختم شریف وغیره بالکل صحیح دي، وګورئ چې د حضرت ابو هریره (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) د ثواب بخښلو الفاظ دا وائي- خلورم دا چې د ځان نه لوئي ته ثواب لیږل جائز دي اګر که هغه د هر خومره شان مالِک وي، وګورئ چې جناب ابو هریره (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) صحابي دے او تابعینو ته د خپل ځان د پاره د اِیصالِ ثواب حُکم کوي- (مرأة المناجيح، 250/7 بتغيرٍ)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ته د یولسمې والا پیر ولې وئیلے کیږي؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** آیا تاسو ته معلومه ده چې حضورِ غوثِ پاک شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ته د فاتحې کولو (یعني د اِسلامي میاشتې په یولسم تاریخ اِیصالِ ثواب کولو) ته یولسمه شریف ولې وئیلے کیږي؟ په اصل کښې غوثِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به د دولسمې شپې په نسبت سره د یولسمې په ورځ ډیر په لوئي شان سره د الله پاک د خوږ اخري نبي مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِیصالِ ثواب د پاره خوراک پخولو او په غریبانو او مسکینانو باندې به یـې خوړلو او د غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ دا معمول مبارک ټول عمر وو- غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ خپلو متعلقینو ته هم د دې د جاري ساتلو وصیت وفرمائیلو، په دې نسبت سره هغوئي " د یولسمې پیر " په نوم سره مشهور شو- (تاریخِ مَشائخِ قادریه، 177/1ـ سوانحِ غوثِ اعظم، ص19)

## د " دولسمې " والا خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فيضان دے " يولسمه شريف "

" د يولسمې شريف " يو بَل ډېر اِيمان تازه کوونکے سبب دا هم ليکلے شوے دے چې حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به دولسمه شريف (يعنې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ميلاد شريف) ډېر په پابندئ سره کولو، يوه ورځ ورله نبي رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړلو او وه يې فرمائيل: عبدُ القادره! تا مونږ په دولسمې سره ياد کړو، مونږ تا له يولسمه درکوو-

د دې اِيمان تازه کوونکې واقعې بيانولو نه پس حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: دا سرکاري عَطِيَّه (يعنې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د طرف نه مېلاؤ شوې تحفه) ده، ځکه (دا تحفه يعنې د يولسمې شريف په ذريعه غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته د اِيصالِ ثواب کولو سلسله) په ټوله دُنيا کښې خوره شوه- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د صدو تيرېدو نه پس هم د اوسه پورې د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه غلامان په ربيعُ الآخر کښې په خاص توګه او د دې نه علاوه د هرې اِسلامي مياشتې په يولسم تاريخ د ذوق او شوق سره د " يولسمې شريف " بندوبست کوي- (جاء الحق، ص220۔ برکاتِ گیارہویں، ص20)

کِیا غور جب گیارہویں بارہویں میں
مُعَمّا یہ ہم پر کُھلا غوثِ اعظم

تمہیں وَصل بے فَصل ہے شاہِ دِیں سے
دیا حق نے یہ مرتبہ غوثِ اعظم

(ذوقِ نعت، ص181)

اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقانو! زمونږ د خوږ پير او مُرشِد حضرت شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خلقو باندې خوراک کول ډير خوښ وو- غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د ټولو نيک کارونو په باره کښې غور اوکړو نو په خلقو باندې د خوراک کولو او د ښو اخلاقو نه افضل او بهتر مې څۀ څيز وه نۀ موندلو- (قلائد الجواهر (اردو)، ص154)

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خليفه مولانا جميلُ الرحمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

تیرے جَد کی ہے بارہویں غوثِ اعظم
مِلی ہے تجھے گیارہویں غوثِ اعظم

(قبالۂ بخشش، ص166)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فاتحې او نياز والا خوراک برکتي کيږي

حضرت شاه عبدُ العزيز محدِّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که چرې د يو بزرګ پاک روح ته د اِيصالِ ثواب کولو د پاره ماليده (د ډوډۍ واړۀ واړۀ پوټې چې په شکره او غوړو کښې واچولے شي او يوه حلوه غوندې ترې جوړه شي )، پےئ او وريژې پخې کړے شي او فاتحه پرې ولوستلے شي نو هيڅ باک پکښې نشته، جائز دي- (فتاویٰ عزيزی، ص39) په يو بل ځائے کښې فرمائي: د کوم خوراک ثواب چې حضرت اِمامَين (يعني حضرت اِمامِ حَسَن او حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهما) ته

ورسولے شي او پۀ هغې باندې سورة الفاتحه، سورةُ الاخلاص او دُرُود شریف ولوستلے شي هٰغه خوراک د تبرک (یعنې د برکت والا) شي، د دې خوړل ډېر بهتر دي- (فتاوٰی عزیزی، ص71)

## پۀ خوراک باندې د تِلاوت برکت

د سِلسلۀ سُهروردیه باني، حضرت شهابُ الدین ابو حَفص عُمر بن محمد سُهروردي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه لیکلي دي چې د یو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه معمول وو چې د روټۍ خوړلو نه مخکښې به هغوي د قرآنِ کریم د یو سورت تِلاوت شروع کړو کوم چې به هغوئي ته هٰغه وخت یاد وو تر دې پورې چې (د هٰغه تِلاوت پۀ برکت به) د خوراک اجزا د ذِکر د نُور نه ډک شول - (عوارف المعارف، ص202)

د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د قرآنِ کریم، د حدیثونو مبارکو او د صحابۀ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان د عمل نه دا خبره واضحه کیږي چې د خپلو وفات شوو د پاره د بخښنې دُعا کول او د څۀ نیکۍ کولو سره د هغې ثواب هغوئي ته لیږل جائز دي- قرآنِ کریم، تفسیرونو، حدیثونو او د علمائے کرامو اِرشاداتو د وفات شوو د پاره د اِیصالِ ثواب کولو ډېرې طریقې پۀ صفا توګه واضحه کړې دي-

ياد ساتئ چې عبادت صرف او صرف هم د الله پاک کيږي او پهٔ دې عبادت باندې د الله پاک پهٔ سره رحمت مېلاؤېدونکے ثواب د الله پاک پهٔ دربار کښې پهٔ دُعا کولو خپلو وفات شوو ته رسولو عرض کولے شي- څکه داسې وئيل چې " **وفات شوو ته ثواب نهٔ رسيږي** "، دا خبره د قرآنِ کريم، د صحيح حديثونو مبارکو او د صحابهٔ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان او د 1400 کالو نه د جاري د مسلمان اُمت د طريقې نه بالکل خِلاف ده- آؤ دا خبره ضرور ده چې پهٔ اِيصالِ ثواب کښې څهٔ نا جائزه او د شريعت خلاف کار شامليدل نهٔ دي پکار، لکه پهٔ اُجرت باندې پهٔ خلقو قرآنِ پاک لوستل چې د دې سره اِيصالِ ثواب خو څهٔ کيږي چې اُلټا دا کار کوونکے ګنهګاريږي-

## د اِيصالِ ثواب نه منع کول شيطاني کار دے

اے د اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم عاشقانو! اِنسان د خپل هر يو نيک کار ثواب " **اِيصال** " کولے شي او د الله پاک پهٔ رحمت سره هُغه ثواب چې کوم ژوندي يا وفات شوي ته وبخښلے شي هغهٔ ته رسيږي- چې د ثواب رسولو والا ذات د الله پاک دے نو بيا پهٔ ثواب رسېدو کښې څهٔ ګران دي؟ ياد ساتئ چې د دِين د بزرګانو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم پهٔ عرسونو کښې چې کومه فاتحه وغيره کولے شي هغه ډېر ښه او د ثواب کار دے او پهٔ دې کښې برخه اخستل هم د ثواب کار دے، هم داسې د چا وفات شوي خپل پهٔ برسۍ (يعنې کليزه فاتحه وغيره) کښې

ختم شريف يا اِيصالِ ثواب کولو کښې پۀ شرعي توګه هيڅ باک نشته- کوم نادانه چې دې کار ته نا جائزه يا ګناه وائي هغوئي له پکار دي چې هغوئي د دې نه توبه کړي او کوم مسلمانان چې پۀ دې نېک کار کښې شامليږي هغوئي هيڅکله هيڅکله هم د دې نېک کار نه مۀ منع کوئ ځکه چې د نېکۍ د کار نه منع کول د شيطان کار دے- د بزرګانو پۀ فاتحه کښې د قرآنِ پاک تِلاوت، نعت خواني، ذِکر او اَذکار او پۀ خلقو د خوراک خوړلو سلسله وي او پۀ حديثونو مبارکو کښې د دې ټولو کارونو ډېر فضيلتونه راغلي دي، بيا د دې خوراک مخې ته پۀ ايښودو د دې کار کولو سره کومه خرابي لازميږي ؟ يقيناً چې داسې هيڅ نشته او د دې نېک کارونو نه منع کوونکے اِنسان ښه انسان نۀ دے- که چرې د قرآني آيتونو او د حديثونو مبارکو اوريدو نه پس هم څوک پۀ اِيصالِ ثواب کولو نۀ پوهيږي نو بيا هغه له د خپلو دماغو عِلاج کول پکار دي- هسې هم پۀ عوامو کښې يوه جمله مشهوره ده ”مر گيا مردود نہ فاتحہ نہ دُرُود “- ځکه يولسمه شريف کول، فاتحه کول، د قرآنِ کريم ختم کول، لنګر ورکول، سبيل لګول (يعني اوبه څښول)، صدقه کول، غلامان ازادول، حج او نور نېک اعمال پۀ دې نيت سره کول چې د دې ثواب حضرت غوثِ اعظم شيخ سيد عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يا وفات شوو نورو مسلمانانو ته ورسيږي نۀ يواځې جائز بلکې د مسلمانانو پۀ خپل مينځ کښې د محبتونو او د فائدو رسولو يوه مبارکه ذريعه ده- الله پاک دې

مونږ ته د خپلو وفات شوو د پاره د دُعا، د صدقې او د اِیصالِ ثواب کولو ښه ډېر توفیق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د یولسمې شریف په باره کښې د بزرګانو اِرشادات

**اے د غوثِ اعظم** رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ **عاشقانو!** د سیدي او مُرشِدي، حضرت سیدنا شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د یولسمې شریف کولو رواج صرف په پاکستان کښې نۀ دے بلکې په ټوله دُنیا کښې د صدو نه د دِین بزرګان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم او د هغوئي عاشقان د دې برکتي دستورې بندوبست کوي لکه څنګه چې

﴿1﴾ تقریباً څلور نیم سوه کال مخکښې د تېر شوي بزرګ حضرت شیخ اَمانُ الله پاني پتي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په ذِکر کولو سره حضرت شیخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دِهلوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: شیخ امانُ الله پاني پتي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په یولسم ربیعُ الآخر شریف د حضرت غوثُ الثَقَلین حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ عُرس مبارک اوکړو او کوم خوراک چې هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پوخ کړے وو په هغه ورځ یې هغه ټول تقسیم کړو- (اخبار الاخیار، ص242)

رکھتا ہے جو غوثِ اعظم سے نیاز — ہوتا ہے خوش اُس سے مولیٰ بے نیاز

(قبالۂ بخشش، ص142)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## تقریباً 400 کاله مخکښې یولسمه شریف کوونکے بُزُرګ

﴿2﴾ تقریباً 400 کاله مخکښې په هندوستان کښې عِلمِ حدیث عام کوونکے عظیم مُحَدِّث حضرت شیخ عبد الحق مُحَدِّثِ دِهلوي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: بے شکه زمونږ په ملک (یعني هندوستان) کښې نن سبا (د شیخ عبد القادر جیلاني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه) یولسم تاریخ مشهور دے او هم دا تاریخ د هغوئي په هندي اولاد او بزرګانو کښې متعارف دے۔ (ماثبت من السنة (اردو)، ص319) د شیخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دِهلوي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه اُستاذِ محترم او د خپل وخت کامِل ولي حضرت اِمام عبدُ الوهاب مُتَّقِي مکي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه به هم په یولسم شریف فاتحه کوله او د هغوئي بُزرګانو رَحمَةُ اللهِ عَلَيهِم به هم۔ (سیرتِ غوثُ الثقلین، ص221)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په بغداد شریف کښې د غوثِ پاک رَحمَةُ اللهِ عَلَيه مزار مبارک ته د وخت د بادشاه حاضري

﴿3﴾ تقریباً د دوه سوه کاله نه هم مخکښې تیر شوے لوئي بزرګ او د پاک او هند د لوئي لوئي علمائے کرامو استاذ حضرت شاه عبد العزیز مُحَدِّثِ دِهلوي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه په سرکاري توګه (یعني د حکومت د انتظام لاندې) د یولسمې شریف په ثبوت کښې فرمائي: په هر یولسمه شریف به بادشاه او د

ښار لوئي لوئي بزرګان د حضور غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ مزار مبارک راجمع کيدل- د مازيګر د نـمونځ نه پس به د قرآنِ کريم تِلاوت کيدلو بيا به د ماښام د نـمونځ پورې د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مناقِب او سيرت بيانولے کيدل، د ماښام د نـمونځ د ادا کولو نه پس به د مزار مبارک سجاده نشين تشريف راوړلو او د هغوئي ګير چاپيره به مُريدان راجمع کيدل، حلقه به يـې جوړوله او پهٔ تيز اواز به يـې د الله پاک ذِکر کولو- پهٔ دې خوندوره موقع باندې به پهٔ ځينو حاضرينو باندې وِجداني حالت هم راتللو- د دې نيک کارونو نه پس به روټۍ، مټهايان او چې کوم نياز تيارېدلو هغه به تقسيمېدلو- د ماسخوتن د نـمونځ نه پس به خلق خپلو خپلو کورونو ته واپس تلل- (ملفوظاتِ عزيزی، ص62 ملخصاً) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د 500 کاله مخکښې تير شوي عالِم اِبنِ عالِم اِرشاد

﴿4﴾ تقريباً 500 کاله مخکښې تير شوے د قرآنِ کريم مفسر، کامِل ولي حضرت علامه مُلا جِيوَن رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (کوم چې د بادشاه اورنګ زيب عالمګير

رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ اُستاذ هم دے، د هغوئي) څوي حضرت علامه فیض عالم بن مُلا جیون رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ فرمائي: او د دې قِسم (یعني د اِیصالِ ثواب) نه یولسمي شریف خوراک هم دے کوم چې د حضرت غوثُ الثَّقَلَین ابو محمد شیخ محيُّ الدِّین عبد القادر جیلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ عُرس مبارک دے- د نورو مشائخو عرس د کال په اخره کښې وي، د حضرت غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ عُرس مبارک هره میاشت وي- (گیارہویں اولیاء و علماء کی نظر میں، ص13)

﴿5﴾ حاجي اِمدادُ الله مُهاجِر مکي رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ د یولسمي شریف او د دِین د بزرگانو رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہِم د عرس مبارک په باره کښې فرمائي: د ثواب رسولو شکل کوم چې په دې زمانه کښې رائج دے د یو قام سره خاص نهٔ دے- د حضرت غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ یولسمه ، دریمه (یعني قُل شریف)، لسمه، شلمه، څلویښتي، شپږ میاشتي، کال وغیره او توښهٔ [1] حضرت شیخ احمد عبد الحق رَدُوَلَوِي رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ او سه مَنِّي حضرت شاه بو علي قلندر رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ (یعني د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ د اِیصالِ ثواب د پاره د درې منه غلې نیاز)، د شبِ براءت حلوه او د اِیصالِ ثواب نورې طریقې په دې قاعدې باندې جوړې دي (یعني دا ټول څیزونه په اُصولي توګه منع نهٔ دي)-

(فیصله ہفت مسئله، ص22،23- گیارہویں اولیاء و علماء کی نظر میں، ص15)

---

1...کوم طعام یا خواږهٔ وغیره چې د یو ولي یا بزرګ د اِیصالِ ثواب د پاره تقسیم کړے شي-

**اے د غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه عاشقانو!** تاسو وکتل چې د دِين د بزرګانو او د صالحانو (يعنې د الله پاک د نيکانو بندګانو) د يولسمې شريف پۀ موقع باندې د قرآنِ کريم تِلاوت، د الله پاک ذِکر کول او پۀ خلقو باندې خوراک کول د ډيرې مودې نه راروان معمول دے- مسلمانان خو مسلمانان دي غير مسلمه کوم چې که چرې د اِسلامي عبادتونو نه خبر وي نو هغوئي به هم دې کارونو ته د شريعت خِلاف نۀ وائي بلکې هغوئي به هم دا وائي چې پۀ اِسلام مذهب کښې دا کار عبادت دے-

د ذِکر شوو بزرګانو او د علمائے ربانِيين رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم د بيان شوو اقوالو او انداز نه معلومېږي چې يولسمه شريف د دې وخت اِيجاد نۀ دے بلکې د صدو نه جاري او راروان عمل دے- د دِين بزرګانو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم او علمائے کاملين نۀ يواځې پخپله د يولسمې شريف بندوبست کړے بلکې خپلو مُريدانو او متعلقين ته يې هم هميشه د دې نيک کار د کولو ترغيب اِرشاد فرمائيلے-

## د يولسمې شريف شرعي حُکم

د اِمامِ اهلِ سُنَّت اعلىٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه عبارت پۀ اسان انداز کښې پيش کولے شي، اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ليکلي دي: يولسمه شريف مُستَحَب (يعنې خوښ کار دے که چرې وه يې کړې نو ثواب دے که وه يې نۀ کړې نو ګناه نشته) دے او د اِيصالِ ثواب کولو پۀ لحاظ سره د رسول الله

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي، سُنَّتِ قَولِيه مُستَحَبَّه دے- (يعني د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِيصالِ ثواب کولو په باره کښې فرامين موجود دي-) (فتاوٰی رضويه، 605/9 ملخصاً)

## يولسمه شريف ډېر د برکت والا کار دے

حضرت مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دوئي (يعني اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم ته) اِيصالِ ثواب، ډېر د برکت والا او مُستَحَب کار دے، دې ته د اَدب په وجه عوام " **نذر او نياز** " وائي، دا نذرِ شرعي (يعني شرعي منښته) نۀ ده لکه بادشاه له نذر (يعني تحفه) ورکول، په دې کښې په خاص توګه د " **يولسمې شريف** " فاتحه ډېر عظيم د برکت خيز دے-

(بهارِ شريعت، 276/1، حصه: 1 بتسهيل)

سلطانِ اوليا کو ہمارا سلام ہو جيلاں کے پيشوا کو ہمارا سلام ہو

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په دې مياشت (يعني په ربيعُ الآخِر) کښې دې هر مسلمان په خپل کور کښې د حُضُور غوثِ پاک سرکارِ بغداد (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) فاتحه کوي، ټول کال به ډېر برکت وي- که د هرې قمري مياشت په يولسمه شپه يعني د لسم او يولسم تاريخ په مينځنۍ شپه په ټاکلے شوو پيسو خوارۀ (يعني مټايان) د مسلمان د دکان نه اخلي او په پابندۍ سره د يولسمې شريف فاتحه کوي نو په رزق کښې به ډېر زيات برکت وي او اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! چرې به هم نۀ

پرېشانه کیږي- بچیله زۀ د دې پۀ سختئ سره پابند یم او د الله پاک پۀ فضل سره د دې خوبیانې بے شمېره موم- وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى ذٰلِكَ- " (اسلامی زندگی، ص133 ملتقطاً)

## د افتونو او بلاګانو نه د حفاظت نُسخه

د احادیثو مشهور کتاب " مِشکوٰة شریف " پۀ دې حدیثِ پاک کښې چې " پۀ صدقه کښې تادې کوئ چې بلا د دې نه وړاندې نۀ ځي- (مشکاة المصابیح، 359/1، حدیث:1887) " د اُردو شرح " مِرأةُ المَناجِیح " کښې حضرت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه اِرشاد فرمائي: بعضې خلق پۀ افت راتلو سره میلاد شریف، یولسمه شریف، ختمِ خواجګان، ختمِ غوثیه، ختمِ بُخاري، ختمِ آیتِ کریمه کوي، د هغې مَاخَذ دا حدیث دے ځکه چې پۀ دې کارونو کښې د الله ذِکر، د هغۀ د حبیب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت شریف وغېره هم شته او صدقه هم- نور فرمائي: (او) بعضې خلق همېشه میلاد شریف، یولسمه شریف، هره میاشت ختمِ خواجګان وغېره کوي د پاره د دې چې افتونه لرې وي، د هغوئي مَاخَذ هم دا حدیث دے- (مرأة المناجیح، 91/3)

اے د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْهِم عاشقانو! د یولسمي شریف پۀ شان عظیمُ الشَّان د ثواب والا کار د ثابتېدو باوجود هم چې څوک نادانه د دې برکت والا او د الله پاک د رحمتونو ورېدو والا محفلِ غوثیه (یعني د یولسمي شریف) نه مسلمانان منع کوي یا د دې باره کښې د خلقو پۀ ذِهنونو کښې غلط

فهمی پیدا کوي، هغوئي له سوچ کول پکار دي چې هغوئي دا د اولیائے کرامو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم عاشقان د څومره لوئي ثواب د کار نه منع کوي حالانکې په دُنیا کښې ډېر خلق په ګناهونو او فضولیاتو کښې مشغول دي، پکار خو دا وو چې هغوئي له د نېکۍ دعوت ورکړې او په سُنَّت باندې د بوتللو کوشش يې اوکړې نۀ چې د اولیائے کرامو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم عاشقان او د غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه عاشقان د دې ثواب د کار نه منع کړي او د هغوئي په ذِهنونو کښې شکونه پیدا کړي او د هغوئي د بد ګمانه کولو کوشش اوکړي- داسې نادانه خلقو له وېرېدل پکار دي چې په 25 سیپاره، د سورة الزُّخرُف په آیت نمبر 36 او 37 کښې الله پاک اِرشاد فرمائي:

وَمَنۡ يَّعۡشُ عَنۡ ذِكۡرِ الرَّحۡمٰنِ نُقَيِّضۡ لَهٗ شَيۡطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيۡنٌ ﴿۳۶﴾

وَاِنَّهُمۡ لَيَصُدُّوۡنَهُمۡ عَنِ السَّبِيۡلِ وَيَحۡسَبُوۡنَ اَنَّهُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿۳۷﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او څوک چې د رحمان د ذِکر نه مخ واړوي نو مونږه په هغۀ یو شیطان مقرر کړو نو هغه د هغۀ سره ملګرے اوسي- او بے شکه هغه شیطانان هغوئي د لارې نه منع کوي او هغوئي هُم دا ګڼي چې هغوئي هدایت یافته دي-

اے د اولیائے کرامو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم عاشقانو! د الله پاک د رضا او د ثواب حاصلولو د پاره په 12 ربیع الاول شریف د بي بي آمنه رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا د سترګو د تور، رسولِ

بے مثاله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته د تشريف راوړلو پۀ خوشحالئ کښې د خپل کور ښائسته کولو او د ميلاد شريف د محفل کولو نه منع کوونکے او پۀ يولسمه شريف کښې د حضرت شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فاتحې او نياز چې پۀ کوم کښې د قرآنِ کريم تِلاوت، د رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعمت او د الله پاک ذِکر وغيره کيږي د دې نه منع کوونکے پۀ دې حُکمِ قرآني:

مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ﴿۱۲﴾

(پ29،سورۂ القلم:12)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: ”نيکئ نه ډېر منع کوونکے، د حد نه تېرېدونکے، لوئي ګنهګار۔“ کښې داخِل دے۔ يقيناً چې پۀ يولسمه شريف کښې کېدونکے نيک کار مثلاً تِلاوت او نعت، د الله پاک د ذِکر پۀ افضل ترينو قِسمونو کښې دي او د دې نيک کارونو نه منع کول د حد نه د تېرېدو پۀ وجه ګنهګار دے۔

## د ”غوث“ د درېو حرفونو پۀ نسب سره د يولسمي شريف درې واقعې

### ﴿1﴾ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د يولسمي شريف تَبَرُّک (واقعه)

د اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِ سُنَّت شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ باره کښې يو کَس فرمائي چې د هغوئي پۀ مجلس کښې د يولسمي شريف لنګر تقسيم

شو نو لکه څنګه چې د تقسیمولو سره خوارۀ وغېره پۀ بے اِحتیاطۍ سره لاندې غورځېږې مونږ ولیدل چې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د پالنګ نه ښکته راکوزیږې او ډېر پۀ ادب او عاجزۍ سره زمکې ته سر ښکته کوي، مونږ حېران یو چې دا څۀ قیصه ده! پۀ غور چې مو وکتل نو هغوئي ښکته غورځېدلي خوارۀ خُلې ته اچوي، مونږ عرض اوکړو چې تاسو به مونږ ته حُکم کړے وے مونږ به راوچت کړے وے، اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ وفرمائیل: دا د حضور غوثِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د تبرک د شیرنۍ د ادب خلاف وه چې دا پۀ بے اعتِنایۍ (یعنې بے پرواهۍ) سره حاصل کړم- (برکات گیارھویں، ص 37تا38 بتغیرٍ قلیلٍ) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اے د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم عاشقانو! سُبۡحٰنَ اللّٰه! د کوم څیز چې د نیکانو سره نسبت شي هُغه څیز د برکت والا شي نو بیا به د هُغه څیز اِحترام ولې نۀ کولے شي، پۀ " فتاویٰ رضویه شریف " کښې دا هم لیکلي دي چې " نیاز (یعنې فاتحه ) پۀ داسې خوراک باندې کول بهتر دي د کوم چې څۀ حصه وه نۀ غورځولے شي- (فتاویٰ رضویه، 612/9) بلکې هره حصه یې وخوړلے شي-" څکه مونږ له هم پکار دي چې د زیاتو نه زیات ادب اوکړو څکه چې

” با ادب با نصيب او بے ادب بے نصيب-“

## د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کورنۍ او د يولسمي شريف طريقه

اِمامِ اهلِ سُنَّت اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: فاتحه د اِيصالِ ثواب نوم دے څۀ چې د قرآنِ مجيد او دُرُود شريف نه لوستلے شئ وبې لولئ او ثواب نذرانه کړئ او زمونږ د کورنۍ معمول دا دے چې 7 کرته دُرُودِ غوثيه، بيا يو يو ځل اَلحمد شريف او آيةُ الكُرسي، بيا 7 کرته سورۀ اِخلاص، بيا درې کرته درودِ غوثيه- درودِ غوثيه دا دے: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ مَّعْدَنِ الْجُوْدِ وَ الْكَرَمِ وَ اٰلِهٖ وَ بَارِكْ وَ سَلِّمْ- او فقير ورسره دومره زياتوي: وَعَلٰى اٰلِهِ الْكِرَامِ وَ ابْنِهِ الْكَرِيْمِ وَ اُمَّتِهِ الْكَرِيْمَةِ وَ بَارِكْ وَ سَلِّمْ- (فتاوىٰ رضويه، 748/23)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اميرِ اهلِسُنَّت مبارک انداز

اَلْحَمْدُ لِله! د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشق، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علامه مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُريد هم دے او د هغوئي سره په ډيرو سلسلو کښې د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مُريد جوړولو اِجازت هم ورسره دے- د هغوئي د تيرو ډيرو کلونو نه معمول دے چې د هرې اِسلامي مياشتې په يولسم تاريخ د يولسمې

شریف د نیاز بندوبست کوي او د دې ترغیب هم ورکوي- هغوئي اِرشاد فرمائي: په کورونو کښې هره میاشت د یولسمې شریف بندوبست کول پکار دي- هره میاشت دې په نیاز کښې څۀ ښه خوراک پوخ کړے شي- داسې خو په هر کور کښې ښه خوراکونه پخولے شي خو د یولسمې شریف د فاتحې د پاره دې یوه ورځ خاص کړے شي او پاخه دې کړے شي په کوم کښې چې ټولو ماشومانو ته هم پته وي چې نن د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه نیاز دے- بیا به ماشومان هم هره میاشت د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د نیاز د پاره د خپلې مور نه غوښتنه کوي او د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه محبت به د ماشومانو په زړونو او دماغو کښې کښېني- (مدنی مذاکرہ:8 ربیع الآخر 1440 ہجری، 15 دسمبر 2018)

## د یولسمې شریف برکتونه

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه اِرشاد فرمائي: که کېدے شي نو هره ورځ (په کټه باندې نۀ بلکې) د خپل خرڅ(Sale) څلور فیصده (یعنې په څلور سوه روپو کښې یوه روپۍ) او د نوکرۍ کوونکي د تنخوا د میاشتې کم از کم یو فیصده د سرکارِ غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د نیاز د پاره اوباسئ، د اِیصالِ ثواب په نیت په دې رقم باندې دِیني کتابونه تقسیموئ یا یې په یو نېک کار کښې لګوئ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د دې برکتونه به پخپله ووینئ- (فاتحہ اور ایصالِ ثواب کا طریقہ، ص17)

اے جمیلِ قادری ہُشیار باش
عمر بھر چھوٹے نہ یہ تجھ سے نیاز

(قبالۂ بخشش، ص143)

## ﴿2﴾ د یولسمې شریف عاشق (واقعه)

د ګولړه شریف تاجدار حضرت پیر مِہر علي شاه صاحِب رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: زما د طالِبِ علمی په ورځو کښې یو بُزُرګ په " شکر کوټ " نومې ځائے کښې اوسېدو- د هغوئي نوم بابا نُورِ اِلٰهی مشهور وو او هغوئي قادریه نسبت لرلو- هغوئي به د هرې میاشتې په یولسم تاریخ یوه چېلۍ یا ګډ کوم چې به یې په خپلو لاسونو ساتلے وو د حضرت سیدنا عبدُ القادر جېلاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د فاتحه (یعني د یولسمې شریف) د پاره ذبح کولو او ورسره به یې حلوه او ډوډۍ هم پخوله او په فقیرانو باندې به یې خوړله- خاص طور دا نیاز مند خادمُ الاولیا (یعني زهٔ) به یې په اِصرار او اِهتمام سره په دعوت کښې شریکولم- یو ځل زهٔ د شکر کوټ نه اَنګه (چرته چې به مې سبق وئیلو هلته) روان ووم- په لاره کښې د لرې نه ما ولیدل چې هغه سپین رُعبے بزرګ چېلے ځَروي او د محبت او شوق نه د هغې سره لوبې کوي- کله یې په اوګه کړي او کله یې په زمکه باندې کېږدي، زهٔ چې ورنزدې شوم نو وا مې وریدل چې وئیل یې " **میرے محبوب دیا لیلیا (یعني زما د محبوب چېلیه)-**" هغه وخت زما په زړهٔ کښې خیال راتللو چې د عِلمِ دِین حاصلولو نه پس به یو طرف ته یواځې کښېنم او د کتابونو په لوستلو کښې به مصروفه کېږم او سبق وغیره به نهٔ ښایم- کله چې د لارې نه اخوا شوم او د هغوئي سره د مېلاؤیدو د پاره متوجه شوم نو ما ته په کتلو یې وفرمائیل:

”**عِلم حاصل کړئ او دَرس ورکوئ**“ د دې خبرې کولو نه پس بيا د هٔغه چيلي سره پهٔ خبرو کښې مشغول شو- بزرګ به د يولسمې شريف ډېر بندوبست کولو او د حضرت غوثِ اعظم رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د ذات مبارک سره يې کافي رابطه حاصله وه- (اعلاء کلمة الله في بيان وما اهل به لغير الله، ص32 ملخصاً) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## ﴿3﴾ مفتي اعظم هِند رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ او يولسمه شريف (واقعه)

يو غريب ګس حضور مفتي اعظم هِند، شهزاده اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ، مولانا مصطفٰے رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ له خپل کور ته دعوت ورکړو- کله چې حضرت د هغهٔ کور ته تشريف يوړلو نو هٔغه غريب دوه پيالئ چائے پخه کړه او د حضرت مخې ته يې پيش کړه- حضرت چائے وڅښله او د هغې نه پس د هٔغه غريب پهٔ کور کښې د پخو کړے شوو وريجو پهٔ پتيله باندې يې د حضرت شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فاتحه اوکړه- د فاتحې کولو نه پس حضرت تاکيد اوکړو چې پهٔ دې پتيله باندې دې پرده واچولے شي او دې ته دې ښکته نهٔ کتلے کيږي، بس د دننه نه يې راوباسئ او ټولو له يې ورکوئ- حضرت هلته پهٔ موجودو ټولو حاضرينو د خوراک خوړلو حُکم اوکړو- هٔغه وخت هلته ډېر خلق موجود وو، حضرت وفرمائيل چې پينځه پينځه کسان

کنبېنوئ او خوراک پرې خورئ- نو پهٔ يو لوئي سيني (يعنې د پيتلو يا د اوسپنې وغېره پهٔ يو لوئي لوښي) کښې د 5 کسانو خوراک راويستلے شو او خلقو خوراک شروع کړو- هُغه پتيله پهٔ کومه کښې چې ډېر لږ شان خوراک وو، د هغې نه پينځه پينځه کسان راتلل او خوراک به يـې خوړلو او ځان به يـې مړولو، د دې پورې چې د ټولو خلقو خوراک اوکړو- د دې نه پس حضرت وفرمائيل چې لاړ شئ او وګورئ، که پهٔ ګاؤنډ کښې چرته غريبه زنانه يا نارينه وي نو پهٔ هغوئي باندې يې هم وخورئ- نو د ټولو ګاؤنډيانو نه پس پاتې شو- نو د کلي پهٔ ډېرو زنانو او نارينو باندې هم هُغه خوراک وخوړلے شو، خو د پتيلې خوراک ختم نهٔ شو- کله چې ټولو خلقو وخوړو او فارغ شول او د پتيلې نه پرده لرې کړے شوه نو هم هُغه شان ډکه وه لکه څنګه چې مخکښې وه- هلته موجودو خلقو چې دا کرامت وليدو نو ډېر حيران شول- (مفتیِ اعظم ہند کی کرامات، ص106)

د اللهُ رَبُّ العِزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِيۡن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د مفتيِ اعظم هِند رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د کرامت او د يولسمې شريف د خوراک د برکت د دې واقعې سره دې د چا پهٔ ذِهن کښې شېطاني وسوسې نهٔ راځي- د الله پاک اخري نبي مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ وسيله او برکت د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمت د يو ولي نه داسې کرامات ظاهرېدے شي- څکه چې

د اولیائے کرامو رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہِم کرامات د خپل نبي معجزه وي چې هم د هغوئي پهٔ لاره د تللو پهٔ برکت سره ورته دا مقام نصیب کیږي- (فیوض الباری،2/274ماخوذاً) د اُمت د یو ولي نه داسې قِسمه کرامت ظاهرېدل معمولي شان خبره ده ځکه چې زمونږ پخپله د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم معجزه ده چې لږ شان خوراک د ډیرو د پاره کافي شو لکه څنګه چې

## د یو څو کسانو خوراک د ډیرو د پاره کافي شو----

حضرت صُهَيب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: ما د مدینے د تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره لږ شان خوراک پوخ کړو او د دعوت ورکولو د پاره حاضر شوم نو نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو علیھمُ الرِّضوَان سره تشریف فرما وو- د شرم پهٔ وجه مې څهٔ عرض نهٔ کړے شو او خاموشه ودرېدم- سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما طرف ته وکتل، ما پهٔ اِشاره باندې د روټۍ د پاره د تللو خواست اوکړو، خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (پهٔ مجلس کښې د حاضرو خلقو پهٔ باره کښې) وفرمائیل: او دا خلق؟ ما عرض اوکړو، نا- سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاموشه شو او زهٔ هم پهٔ هغه ځائے باندې ولاړ ووم- حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیا زما طرف ته نظر وفرمائیلو- ما بیا هغه شان پهٔ اِشاره کښې عرض اوکړو- وه یې فرمائیل: دا خلق؟ ما عرض اوکړو: نا- پهٔ دویم یا دریم ځل باندې پهٔ جواب کښې ما عرض اوکړو: آؤ جي (یعني دوئي هم د ځان سره راروان کړئ)-

حالانکې خوراک ډېر لږ وو کوم چې صرف د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره تیار کړے شوے وو- مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه ټولو صحابهٔ کرامو عَلیہِمُ الرِّضوَان سره تشریف راوړلو، ټولو ښه ډېر وخوړلو او خوراک بیا هم پاتې شو- (معجم کبیر 45/8، حدیث:7321)

## د شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْه فرمان

**اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْه عاشقانو!** د کوم مُرشِد چې مونږ یولسمه کوو مونږ له د هغوئي د سیرت د اِختیارولو هم کوشش کول پکار دي او د هغوئي پهٔ اِرشاداتو هم عمل کول پکار دي، راځئ چې د حضور غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْه یو اِرشاد واورو، غوثِ پاک رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْه فرمائي: " د الله پاک نافرماني نهٔ دي کول پکار او د ربنتیاؤ لـمن پرېښودل نهٔ دي پکار-"

(فتوح الغیب مع قلائد الجواہر، ص44 ملخصاً)

**اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْه عاشقانو!** نیت اوکړئ چې د نن نه پس به هیڅ ګناه نهٔ کوو، نـمونځونه به نهٔ قضا کوو، بغیر د شرعي اجازت نه به جَمعه هم نهٔ قضا کوو، فرض روژې به نهٔ قضا کوو، زکوٰة به پوره ادا کوو، که حج فرض شوے وي نو پهٔ ادا کولو کښې به نهٔ ناوخته کوو، دروغ به نهٔ وایوو، ږیره به نهٔ خریوو او د یو موټې نه به یې نهٔ کموو، فلمونه ډرامې به نهٔ ګورو، سندرې سازونه به نهٔ اورو، بے پردې زنانوْ ته به نهٔ ګورو، سود به نهٔ کوو، د رشوت

لين دين به نهٔ کوو، شراب به نهٔ څښو، د مور او پلار نافرماني به نهٔ کوو ځکه چې دا ټولې د الله پاک نافرمانئ دي او زمونږ د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمان دے چې د الله پاک نافرماني نهٔ دي کول پکار- چې د الله پاک پهٔ رحمت سره د ګناهونو نه بچ شو، ښې ډيرې نيکئ اوکړو، پهٔ نيک اعمالو باندې عمل اوکړو، پهٔ قافلو کښې سفر اوکړو، د عاشقانِ رسول صحبت اِختيار کړو، نو د الله پاک او د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا حاصليدو پهٔ حالت کښې به پهٔ غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پسې وروستو وروستو جَنَّت ته داخِل شو- اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم!

## د يولسمې شريف پهٔ باره کښې يو څو غلط فهمئ او د هغې ازاله

﴿1﴾ غلط فهمي: د يولسمې نياز صرف پهٔ يولسم تاريخ کيدے شي، پهٔ بله يوه ورځ باندې نهٔ شي کيدے-

جواب: داسې بالکل نهٔ ده، د اهلِ سُنَّت پهٔ قابل اِعتماد يو کتاب کښې هم داسې نهٔ دي ليکلے شوي، که څوک وائي نو دا د هغه ويونکي غلطي ده- د يولسمې شريف مطلب "سرکار بغداد حضور غوثِ پاک شيخ سيد عبد القادر جيلاني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته اِيصالِ ثواب کول" دي او اِيصالِ ثواب پهٔ کال کښې هر وخت کيدے شي-

﴿2﴾ غلط فهمی: يولسمه شريف کوونکي دا فرض او واجب ګڼي-

جواب: دا هم غلطه خبره ده پۀ دې رساله کښې د اِمام اهلِ سُنَّت اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پۀ حوالے سره دا خبره بالکل واضحه کړے شوې ده چې يولسمه کول مُستَحَب (يعنې د ثواب والا کار) دے- څکه که څوک يې اونکړي نو بالکل به نۀ ګنهګارېږي البته يولسمه شريف ګناه ګڼونکے به پۀ شريعت باندې د بهتان (يعنې د غلط اِلزام) لګولو پۀ وجه ضرور ګنهګارېږي- او آؤ! يولسمه شريف د اِيصالِ ثواب پۀ لحاظ سره سُنَّت دے- نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوک چې خپل ورور ته فائده رسولے شي نو پکار دي چې هغۀ ته فائده ورسوي- (مسلم، ص931، حديث:5727)

﴿3﴾ غلط فهمی: د يولسمې شريف خوراک مخې ته کېښودل او فاتحه کول ضروري دي؟

جواب: د يولسمې شريف يا د هر يو بزرګ د فاتحې کولو د پاره خوراک مخې ته کېښودل ضروري نۀ دي، دا ضروري ګڼل غلطي ده او مخې ته پۀ کېښودو فاتحه لوستل غلط ګڼل هم غلطي ده څکه چې د فاتحې کولو پۀ موقع چې کوم څيزونه مخې ته کېښودے شي، هغه حلال او پاک خوراکونه وي، بيا پۀ هغې باندې د قرآنِ پاک آيتونه مبارک لوستلے کيږي او پۀ نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاک لوستلے کيږي، پۀ کومو پاکو څيزونو باندې چې د الله پاک نوم واخستے شي او کوم څاروي چې د الله پاک پۀ

نوم باندې ذبح کړے شي نو هغه حلال دي، الله پاک په قرآنِ کریم کښې اِرشاد فرمائي:

﴿ فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ بِاٰيٰتِهٖ مُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ ﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو د هغې نه خورئ په څهٔ چې د الله نوم اخستے شوے دے که تاسو د هغهٔ په آیتونو اِیمان لرئ۔

(پ8، سورۃالانعام:118)

## د یولسمې شریف کولو برکتونه

حضرت مولانا محمد وحید قادري مرحوم لیکلي دي: مونږ چې څوک د یولسمې شریف پابند لیدلے دے هغه په معاشي لحاظ سره فارغُ البال (یعني خوشحاله) جوړېږي او د روحاني ترقۍ به څهٔ وایم۔ (برکات گیارہویں، ص20)

جب اپنے غوثِ پاک کی آتی ہے گیارہویں
سب کو بہارِ تازہ دِکھاتی ہے گیارہویں

ہوتی ہیں دُھوم دھام سے عالَم میں محفلیں
کانوں کو مَدحِ غوث سُناتی ہے گیارہویں

اَجرِ عظیم بانیٔ محفل کو ملتے ہیں
رحمت خُدائے پاک کی لاتی ہے گیارہویں

ہوتا ہے ہر مرید کا کیا باغ باغ دِل
گُل گلشنِ جماعت دِکھاتی ہے گیارہویں

(گیارہویں اولیاء و علماء کی نظر میں، ص17)

## د غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د مُرید د پاره زیرے

د غوثِ پاک حضرت شیخ عبد القادِر جیلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمان مبارک دے: الله پاک زما سره وعده فرمائیلې ده چې زما مُریدان به جَنَّت ته داخلوي۔

(بهجةالاسرار، ص193 ملخصاً)

سُنا لَاتَخَفۡ تیرا فرمانِ عالی غلاموں کی ڈھارس بندھی غوثِ اعظم

## یوه ګټه وره مشوره

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت، مولانا الیاس قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د دې وخت ډېر لوئي عِلمي او روحاني شخصیت دے د چاپهٔ برکت چې ډېر غیر مسلمه مسلمانان شوي دي، د لکونو خلقو ژوند بدل شوے دے او هغوئي پهٔ نیغه لاره روان شوي دي، د مسلمانانو د خیر خواهۍ د جذبې لړ کښې مَدَني مشوره ده چې تاسو هم د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه پهٔ ذریعه د سیدي حضور غوثِ پاک شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مُریدان جوړ شئ او که چرې تاسو د مخکښې نه د کوم پیر صاحب مُرید یئ نو د بیعت برکت حاصلولو د پاره طالب جوړ شئ، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! پهٔ دُنیا او پهٔ اخرت کښې به د دې ډېر برکتونه در نصیب شي۔

## د Whats App پۀ ذریعه مُرید جوړ شئ:

د مُرید جوړېدو یا د بل چا د مُرید جوړولو د پاره د هغوئي نوم سره د پلار نوم او عمر ولیکئ او

پۀ دې نمبر +923212626112 باندې یـې وټس اېپ کړئ-

🌸 پۀ دې نمبر باندې کال نۀ ریسیو کیږي، صرف د لیکلو پۀ شکل کښې دا تفصیلات راولیږئ-

# پهٔ رزق کښې د برکت نُسخه

کاروبار کوونکے دې د خپل روزانه خرڅون يو فيصد او تنخوا دار دې د خپلې هرې تنخوا کم از کم دوه فيصده اوباسي او هره مياشت دې د يولسم شريف نياز کوي نو اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيْم! د هغه پهٔ رزق کښې به برکت وي. (که چرې پهٔ کور کښې پهٔ نياز کولو کښې خنډ وي نو پهٔ بل څهٔ نيک کار کښې هغه رقم ولګوئ)


فيضانِ مدينه، محلّه سوداګران، زړه سبزې منډهي کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net